ليکنه:احسان الله آرينزی

# د افغانستان د کرکټ ملي ټيم بريا دې هم مبارکه وي!

څو ورځې مخکې د افغانستان فوټبال ملي ټيم، په نيپال کې د جنوبي آسيا په فاينل لوبو کې، د هندوستان ملي ټيم ته ماتې ورکړه او په دې توګه يې، د لومړي ځل له پاره د دې سيمه ييزه لوبو اتلولي وګټله.
افغانستان، پاکستان، هندوستان، بنګله دېش، سريلانکا، مالديو، نيپال او بوتان د جنوبي آسيا هېوادونه د سارك SARRK غړي دي. سارك د دې هېوادونو د سياسي-اقتصادي همغږۍ ستره ټولنه ده چې په خپل څنګ کې اقتصادي، فرهنګي، هنري او ورزشي څانګې هم لري.
د فوټبال کومه سيالي چې دوه اونۍ مخکې په نيپال کې پای ته ورسېده او افغانستان يکې اتلولي وګټله، د همدې فعاليتونو يوه ښه بېلګه بلله کېږي.
په هغه شپه چې افغانستان هند ته ماتې ورکړه ، د هېواد وضع ناڅاپه بدله شوه. په لسګونو زره خلك واټونو ته ووتل او په ډېره هېواد پاله روحيه يې د خپلو ځوانو ورزش کارانو حماسه وستايله! د ژوندي دې وي افغانستان غږونه واورېدل شول او ځوانانو په زرګونو ملي بيرغونه ورپول.
که څه هم چې په هغه نه هېرېدونکې شپه کې ځينو نامسووله کسانو ډزې وکړې او ښاريان يې مشوشه کړل؛ خو داسې ښکارېده چې دې بري زموږ د ځګړه ځپلو او ستومانه خلکو په ژوند کې يوه نوې سا پوه کړه، رژيدلي او مړاوي اميدونه بيا ژوندي شول، په ځان باندې د باور روحيه پياوړې شوه او د ملي يووالي چيغې اوچتې شوې.
دا دی په داسې حال کې چې په جنوبي اسيا کې د افغانستان د فوټبال د ملي ټيم د اتلولي خوشالي لا روانه ده، په افغانانو بل زيری وشو.
دا ځلي د افغانستان د کرکټ ملي ټيم په شارجه کې کينيا ته ماتې ورکړه او د لومړي ځل له پاره يې په هغه نړيوالو لوبو کې د ګډون چانس تر لاسه کړ چې په ۲۰۱۵ کې په استراليا او نوي زيلند کې کېدونکې دي.
په افغانستان کې يوه لوبه شته چې خلك (توپ ډنډه) ورته وايي. کېدای شي چې همدا توپ ډنډه د اوسني کرکټ لومړنۍ بڼه وبلل شي. وېل کېږي چې د نولسمې پيړۍ په دوهمه نيمايي کې چې انګليسانو په افغانستان دوهم ځلي (۱۸۷۸-۱۸۸۰) يرغل کړی و، په کابل کې د افغاني ځوانانو او انګليسي سرتېرو تر منځ داسې لوبه کېده چې احتمالاً نن (کرکټ) بلل کېږي.
په هر صورت که کرکټ له توب ډنډې څخه پيل شوې وي، که نه، اوس يوه نړيواله لوبه ده چې په کامنولټ هېوادونو کې ډېر پلويان او ليدونکي لري.

په افغانستان کې دېرش کاله مخکې چا کرکټ نه پېژاند؛ خو پاکستان ته د لکونو افغانانو مهاجرت او د رسنيو او اړيکو پراختيا او پياوړتيا، کرکټ په افغانستان کې په داسې يوه لوبه بدله کړه چې اوس ډېر مينه وال لري.
په هغه مازديګر چې د افغانستان کرکټ ملي ټيم د عربي متحده اماراتو په شارجه کې، د کينيا پياوړي ټيم ته ماتې ورکړه، د هېواد وضع يو ځلې بيا بدله غوندې شوه، په لسګونو زره خلك په کابل، کندهار، ننګرهار، خوست او ډېرو نورو ښارونو او کليواله سيمو کې له ډولونو سره واټونو ته راووتل او يو ځلې بيا يې په ډېره هېوادپاله روحيه، د خپلو بچيانو حماسه وستايله، د ژوندي دې وي افغانستان غږونه واورېدل شول، ځوانانو ځانونه په اتڼونو ستړي کړل او ملي بيرغونه ورپول شول!
ولسمشر حامدکرزي د کرکټ اتلانو ته د بري مبارکي وويله او هيله يې ښکاره کړه چې افغانان نور ستر بري هم ترلاسه کړي.
د کرکټ ملي ټيم دا ستر برى يوازې يو سپورتي برى نه؛ بلکې د يوه سرلوړي خو ځپل شوي ولس د پاځېدو او په پښو ودرېدو زيرى دى. داسې وزرشي برياوې رواني، ټولنيزې، سيالي او فرهنګي اغېزې لري، کومه ملي روحيه چې د افغانستان د فوټبال او کرکټ د ملي ټيمونو د بريو په ورځو کې، د افغانستان سپين ږېرو او ځوانانو، ښځو او نارينه وو، لوستو او نالوستو، پوځيانو او ملکيانو او لنډه دا چې ټولو خلکو ننداره ته کېښوده، د هېواد په اوسني تاريخ کې سارى نه لري. د بريو په دې تاريخي ورځو کې زموږ خلکو له ولسمشره تر وروستي هېوادواله پورې، خپل ستروالى وښود او دا يې ثابته کړه چې له ډېرو ستونزو، کړاوونو او ناخوالو سره_ سره د ملي يووالي د ساتلو او پياوړتيا هېلې، وس، اراده او ژمنه شته.
په شارجه کې د افغانستان د کرکټ ملي ټيم بري، دا ځلې د نړى په نامتو ورځپاڼو، برېښنايي پاڼو او خبرونو کې وړ ځاى وموند، د الجزيرې او سکاى سپورټس ټلويزيونونو دا خبر په تفصيل خپور کړ او تبصرې پرې وشوې او د کرکټ نړېوالې شورى، د افغانستان کرکټ فدراسيون ته يو مليون ډالر جايزه ورکړه.
د افغاستان کرکټ ملي ټيم به له دې بريا وروسته د پاکستان، هندوستان، انګلستان او نورو سترو هېوادونو له ټيمونو سره لوبې کوي.
دې بري او بېساري هرکلي وښوده چې د افغانستان خلك او په تېره بيا ځوان نسل، د يو شمېر مافيايي کړيو، ټوپکيانو، د پرديو د مزدورانو او د افغانستان د ملي هويت د دښمنانو د هڅو سره سره مخ په وړاندې روان دي او نوې برياوې تر لاسه کوي.
سمدلاسه دې د کرکټ ملي ټيم بريا د افغانستان ټولو خلکو، د کرکټ او د ورزش ټولو فدراسيونونو، د کرکټ ټيم ځوانو لوبغاړو او د دوى کورنيو ته مبارك وي. هيله ده چې دا برياوې بيا بيا تکرار او د خلکو په شونډو د خوشالي او بري موسکاوې تلپاتې شي!